M T W T F S

DATE: ____________

# اولسي ادب څه ته وايي:

## ۱- پېژندنه:

اولسي ادب د ولسي ژبې هغه ادب دی چې سينه په سينه او نسل در نسل منتقل کيږي، او د ژبې، ادب و ثقافت تحفظ کوي. اولسي ادب ته قامي ادب، عام وايي، او عوامي ادب د قوم سرمايه وي

## ۲- د اولسي ادب ابتدا:

د اولسي ادب ابتدا د نبي نه شوې ده. لور لسمه صدي عيسوي د عوامي ادب روښانه دور وو.

## ۳- د اولسي ادب ځانګړتياوې:

اولسي ادب په په عوامو کښې زيات مشهور وي، او د دې ژبه په انتهائي ساده وي. تشبيهاتو او استعارو نه پاک وي او آسانه ژبه کښې په د عوامو د جزباتو او خيالاتو ترجماني کوي.

## ۴- د اولسي ادب اصناف:

د اولسي ادب بې شماره اصناف دي. چې په هغې کښې مونږ سره ټپه، چار بېته، لوبه، سندره، نيمکۍ، بدله، بګتۍ او متلونه، مشهور اصناف دي.

## د پښتو د اولسي ادب تفصيلي ليک:

● اولسي ادب په پښتو ژبه کښې د پېره لوې پايه لري. او د اولسي ادب په وجه پښتو ژبه مدام په مخکښې تلې ده.

Babar Paper Product

M T W T F S DATE:

د پښتنو د اولسي ادب موضوعات د مینې او رومان نه واخله تر د ثقافتي ژوند د اجزاوو پورې په هر څه وېنا کوي.

## د پښتنو د اولسي ادب اصنافو باندې تفصیلي بحث:

### ۱- ټپه:

ټپه د پښتنو د عوامي شاعرۍ د ټولو نه اهم صنف دی. محققین په اتفاق سره وایي چې د پښتنو شعر ابتدا د ټپې نه شوې ده.

### 1- د پښتنو ټپې نور نومونه:

ټپې ته مصرعه هم وایي. د ټپې بل نوم لنډۍ هم دے. او لنډۍ ورته ځکه وایي چې د دې وړومبۍ مصرعه لنډه وي په دغې وجې نه ورته لنډۍ وایي.

### 2- د پوهانو په نظر کښې د ټپې پېژندنه:

قاضي عبدالحلیم اثر مطابق: ټپه ورته ځکه وایي چې دې سره آواز ټپ شي. دا اکثر په اوچت آواز وئیلې شي، او په پوره مصرعه بعد آواز ټپ شي او بیا آواز نه پورته کېږي. ښاغلي عبدالصمد مینې: ټپه کم از کم زر کاله زړه ده. د قلندر مومند "پښتو لوک ګیت" مطابق: ټپه پښتو ژبه کښې "مصر" ته وئیلې شي.

اوله مصرعه ———— ۹ سیلابه
دویمه مصرعه ———— 13 سیلابه

### 3- د ټپې شکل:

ټپه په دوو مصرو مشتمل وي. اوله مصرعه لنډه وي او په نهه سېلابونو مشتمله وي. او دویمه مصرعه اوږده وي، چې پکښې ۱۳ سیلابونه وي.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

## ۴- د ټپې مثالونه:

- جانان د مور او پلاره خوږ دی
ځکه مې اوښکې د نیاز بنوستګو زینه

- زما یا نمره ورته لوګې کړې
زما کاڼه په جانان بدراغلي دینه

## ۵- د ټپې موضوعات:

د ټپې مختلف موضوعات دي.

۱- حمدیه او نعتیه ټپې: حمدیه او نعتیه هغه ټپې دي په کوم کښې چې د خدائي او رسول ﷺ تعریف او صفت بیان شوې وي.

رسول الله په باغ کښې بېرې ګلان شومېرې منځ په پانو پټوینه

- مینه د خدائي او رسول ﷺ ښه ده
دا لوړې مېنې لباسي پاتې په ښیته

۲- د ننګ غیرت او پښتونولۍ په حقله ټپې:

دا د ټپې هغه قسم دي په کوم کښې چې د پښتنو ننګ، غیرت، بهادري او پښتونولي (جرګه، بدل، حجره، لوړه) په باره کښې ذکر شوي وي.

- په لوړ لوړ لیک ویشتلي راشي
د بې ننګۍ اوازدې را مه شینه

- که د وطن په ننګ شهید شوې
په تار د زلفو به کفن درله ګندمه

- زړه دې له مرګه نه یرېږم
پښتې پېغلې هغېښه په وفا مرینه

۳- تاریخي ټپې:

تاریخي ټپې هغه ټپې دي په کوم کښې چې تاریخي واقعې ته اشاره شوې وي.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

٭ جانانه راشه آدم خان شه
درخانۍ مینه په ما افکره مئینه

(M)(T)(W)(T)(F)(S) DATE: ____________

٭ زما او ستا چې لیږې وعدې وو
بېګاه په صفه خاڼ ګڼبې اوړ وتګیږنه

د موسیٰ او د الله تعالیٰ ملاقات: کوه طور طرف ته اشاره۔

٭ که په مینه د ګڼبې شهید نه شوې
خدا ئیلو [illegible] ولیه بې تنګي له دې ساتینه

۴۔ سیاسي حماسي او قامي ټپې:

په دې قسمه ټپو ګڼبې د
سیاست، د آزادۍ، د قام او وطن په حقله بحث شوې وي۔

٭ د آزادۍ ناوې جوړه بېږي
سر لو زلمي نغرې وهي زما دې شینه

٭ لو په جانان مرګ ته تیار یم
بل په د قام وپاره سر تلي ګڼبې ورو

۵۔ عشقیه ټپې:

عشقیه ټپو ګڼبې د عشق، مینې
محبت باره ګڼبې لیک شوې وي۔

٭ د زړه په سر مې ازغي مات شو
نه یې وليښې شم نه یې درد زغملی شمه

٭ ستا د لوی ورځې خنداوه
٭ مینه د زړه لیبل دستګو
زه به زړا د رپیږي ټول عمر کومه
لاس اچول خو د تم اصلو خلقو وینه

٭ زلمو مې سورې ولیني ترې خاخي
٭ ستا دیمائست ګلونه هم بر دي
د غم چیم چنې پکښې جالي جوړه وینه
جولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

۶۔ د محبوب په حقله ټپې:

په دې ګڼبې د محبوب د مختلف
اندامونو صفت په حقله لیک شوې وي۔

٭ شونډې دې سرې دي مخ دې سپین دې
لکه په جام ګڼبې د ګلابو پانړې وینه

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S

DATE:

• سترګې دې لوري په چل کوي

دلبلي خوري په کتو دې مئين کړمه

۲- اخلاقي ټپې:

• چې خوب کوي خاوري به لوسي

شاه دغفوشا چې شو ګيري ورته کوينه

• ګبر دې چې ييم په ځواني مه کړه

ځواني د زمې مازيګر دے تير به شينه

• ضرور دې تګ د بل وطن دے

دلته ټپسې خوله چوري دنګ محلونه

• د ظلم جام به دې نسکور شي

په مظلومانو بالدې مه کوه ظلمونه

## ۹- د مسافري ټپې:

مسافري ټپي د ټپو هغه

قسم دې کوم چې د مسافرو په حقله ونيلي شوي دي.

دا لنډ شنځو ونيلي وي ځکه چې دهغي خاوندان يا

محبوبان په مسافري تلي وي او دي دهغي په ياد کښې

د ضيل خيالاتو اظهار کوي.

• يار مې وطن ته روانيږي

په غم غيره ننګلي مې چيم د اوښکو ځينه

• خدايه د قحط بازار وران کړې

د شنه ميم ولو چوله کو ټيمې ناشتي دينه

• مسافري نه دې ځان جوړ کړمه

چاره راوخله ماحلاله کړه مئينه

• مينه مې مه کوده کافر شوي

زه مسافر جانان په خدای سپارلي يمه

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

(M)(T)(W)(T)(F)(S) DATE:

## ۱۰- معاشرتي ټپې:

معاشرتي ټپې هغه قسم ټپې
ته وائي په کوم کښې چې د ماحول د مختلفو څیزونو عکاسي
کیږي مثلاً واده ښادي. میلمستیا او حجره، چیلم، لوټ،
ګودر، اباسین وغیره۔

### ۱- میلمستیا او حجره:

- حجره خو ځائ د میلمنو دي
چې جانان ناست وي ټول عالم دې ننګوینه

- خاوند ته ټوله مې ترې ځار کړې
د یار د کلي میلمانه راغلي دینه

- حجره د ټول د کلي سره
په نیمه شپه کوره ته زما جانان راځینه

- یار مې هندو زه مسلمان یم
د یار د پاره درمسال جارو کومه

### ۲- کالي او لباس:

- والې د غوږ امیل د غاړې
پېزوان د پوزې راته کړې اشارې کوینه

- افسوس افسوس ارمان ارمان دي
نه مې پېزوان شته نه د غاړې تاوېزونه

- روپۍ مې وې قطار مې نه کړې
اوس مې یار د پېړې درو پیو قطارونه

### ۳- خاندان باره کښې ټپې:

- مورکې مه راته قهر پېږه
په تا تېر شوي په ما اوس راغله وارونه

• ولې ډنګر دا دې نې یاره
ډنګره زه یم چې د یار له لوره ځمه

• وروره د لفر لوړیک دې خار شم
د لنډان څو ټوټې دي خو رجوع کمې دینه

## ۴- لوږه حقله ټپې:

• چې لوږې ګوتې به پرېږدې
بابا ته وایه چې لوګړي واچوینه

• سترګې ئې سرې لکه انار دي
یارمې چې لوږه ټوله شپه لوږې لوږنه

## ۵- وادۀ باره کښې ټپې:

• سور پټارس له راله راوړې
په شکر شکر به ډولۍ ته وخېژمه

• زلمیه ننګ را پالنې وکړه
پلار مې ظالم دی ما په اور کښې اچوینه

## ۶- ګودر په حقله ټپې:

• د ګودر غاړه ورته نیسه
د لیلی خوږې دم غاړې دې را به شینه

• ګودر له ځم را پسې راشه
ما به مګلې کښې پرانې راوړې دینه

## خلاصه:

ټپه د پښتنو د ژوندګۍ د دوولف یو آئین دي
کوم چې د پښتنو د ژوند حالات، تهذیب، ثقافت او طرز زندګي

Babar Paper Product
Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

په حالاتو ګواهي ورکوي. ټپې د پښتنو مشترکه میراث دي
یعنې سړي، ښځې، ځوانان، بوډاګان، مالداره او غریبان ټول
پکښې خپله برخه لري او نسل در نسل، سینه په سینه راروانه
ده. د وخت سره سره ټپې د ترقۍ په لاره مخکښې روانې دي
او نن صبا ډېرې زیاتې کتابي شکل کښې موجود دي. تر دې
پورې نن صبا عام سړي، ښځې، ځوانان او بوډاګان د خپلو
خیالاتو او جذباتو اظهار د ټپې په شکل کښې کوي.

# چاربیته

## 1. پېژندنه:

چاربیته د نظم یو صنف دی. د پښتو اولسي شاعرۍ کښې د تپې نه بعد چاربیته ډېر مقبول او زړه پورې صنف دی. دا هم ډېر زوړ صنف دی. چاربیته ډېر خوندور رنګ لري او ددې خپل وزن او اولسي اهنګ دی. په چاربیته کښې د نڅا ډېر طاقت پروت دی او پښتو د رباب، ستار او منګي سره وئیلي کیږي. چاربیته هم د تپې په شان نسل درنسل په پښتو قام کښې راروانه ده.

## 2. د چاربیتې خو غټې غټې نخښې:

دې کښې چستي او روانی ډېره وي. ددې سر یعنی مطلع اکثر قسمونو کښې دوه بکره وتو او وزنونو کښې وي. څېنې چاربیتو کښې د بند آخري د جوړ مصرعه چې سر سره هم قافیه کولی شي نو د غه مصرعه د مطلعې د دواړو مصرعي سره هم قافیه کیږي. خو چاربیتو کښې د 6، 9 او 13 سیلابونو مصرعي هم وي.

## 3. د چاربیتې موضوعات:

د چاربیتې خاص مخصوص موضوع نه وي په دې صنف کښې قامي، ملي، وطني او تاریخي واقعات، مذهبي واقعات، زاړه واقعات، داستانونه، د جنګونو قیصې، د اجتماعي حالاتو تمدني رنګ، د عشق

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

و محبت قیصې تیز د ژوند ترجماني او د ژوند دهر
اړخ انځور پکښې کولی شي.

## ۴- د چاربیتې مشهور استاذان:

د چاربیتې ډیر لوی
لوی شاعران تیر شوي دي په دغو کښې میرا. توکل.
نورالدین. قمر دین، محمد جي. نور محمد. صالح محمد. محمد ایوب
خان. احمد دین طالب شامل دي. خو د چاربیتې بابا عبدالواحد
تپلدار نه وئیلی کیږي.

## ۵- لیکلي شوې چاربیتې او دغو شاعران:

قاضي عطاء الله
خپل کتاب د پښتو تاریخ کښې نارینې چاربیتې لیکلې دي.
نصرالله خان نصر د نورالدین چاربیتې شائع کړې دي. محمد
حسن ضمیر د ۵۵ عوامي شاعرانو 100 چاربیتې شائع کړې دي.
همیش خلیل صیب د چاربیتې او وسنی شاعران او پنخوانی شاعران په
نوم کتاب لیکلی دی.

## ۶- د چاربیتې ساخت:

چاربیته کښې، کله ځنګه چې ئې د
نوم نه ظاهره ده، څلور بیتونه وي. د سر شعر نه پس دري دري
مصرعې وي او څلورمه مصرعه ئې د سر په وزن وي.



M T W T F S DATE: ____________

## .3 بدله :

### ۱- پېژندنه :

بدله هم کله د ټپې په شان پښتنو کښې ډېر مقبول صنف دے چې د پښتو ژبې لوئ سرمايه پکښې محفوظه پرته ده. بدله د مثنوي په شکل وي. بدلې ته بدله ځکه وائي چې په هر بيت کښې يې بدله قافيه وي. ولې په پښتو کښې داسې بدلې هم شته چې په يوې قافيې او يو رديف ليکلې شوې دي.

### ۲- خوشحال بابا او بدله :

فرمايي چې :

- يا د سپينو لاسو مرد شه يا عاشق شه
چې يا ډګې په بدلو په سندرو

### ۳- افضل رضا صاحب د بدلې په حقله :

افضل صاحب

بدلې باره کښې ليکلي چې د بدلې معنه ده "بدله شوې" مطلب چې دا د مثنوي بدل شوې لوم دے.

### ۴- ډاکټر عبدالله جان عابد او بدله :

ډاکټر صاحب

وائي چې بدله د مثنوي په طرز ليکلې شي، او په دې کښې روماني، تاريخي او رزميه داستانونو او واقعاتو بيان کېږي.

### ۵- د بدلې خصوصيات :

د بدلې د هر شعر بدله بدله

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

قافیه وي. د بدلې هر شعر اکثر 8-8 سېلابونه لري. کله کله کم سیکي غزل غوندې او کله کله خپل خپل سېلابونه ورته هم جوړولی شي. د بدلې په ټولو بیتونو کښې چې کوم مضمون شروع وي هم هغه تر اخره پورې وي. بیتونو څه یکښې فاصله نه دي. بدله چې شروع کیږي نو اول تمهید ورته ترلې شي نو بیا واقعه شروع کیږي.

## ۶- د بدلې موضوعات:

په بدله کښې د ژوندي هر قسم موضوعات لکه د عشق او محبت نه واخله تر مذهبي موضوعاتو پورې بیانولی شي.

مثلاً: په بدله کښې روماني، تاریخي، اتفاقي قیصې او واقعات په تفصیل سره بیانولی شي. رزمیه او بزمیه ټول واقعات یکښې ځایولی شي. د پښتو ټول اولسي رومانونه لکه آدم خان درخانۍ، فتح خان رابعه، جلات محبوبه، یوسف خان شېربانو، شیر عالم میمونۍ او مومن خان شیرینۍ وغیره په بدله کښې بیان شوي دي. دغه شان مختلفي جنګنامې او نور بې شمېره مقامي جنګونه، تاریخي داستانونه په بدلو کښې محفوظ دي.

## ۷- د بدلې عوامي شاعران:

د بدلې عوامي شاعران کښې عبدالواحد تهکیدار، نورالدین نور طالب، ملا نعمت الله، نواب احمد ګل، امانت فیاض، حمید ګل، حضرت ولي، محمد نور،

عبدالغفار، عبدالله استاذ، او ولي محمد جمال وغیره
شامل دي. دغه شان د بدلي خاص کتابونه هم
شته.

۸- پښتو کلاسیکي او منظوم ادب کښې د بدلي ذکر:

د پښتو اولني شاعر
امیر کروړ په خپل کتاب پټه خزانه کښې د "بدلې"
لوري بطور صنف د شاعرۍ هم و زيتو کښې استعمال
کړي دے. خوشحال خان خټک په خپل کلیات کښې هم
"بدلې" لوري بطور صنف استعمال کړي دے. دغه شان
اخون درویزه بابا په خپل تصنیف "مخزن الاسلام" کښې
"بولې" لوري د نا پسندیدګۍ په طور استعمال کړي دے او دهغې
مطابق بدله کښې د محبوب د زلفو او خط وخال خبرې کیږي.

۹- د بدلي نمونه:

نن مې بیا په زړه بلیږي اور د عشق
ځکه خیږي مې د خولې نه شور د عشق
اور د مینې مې د زړه په سر بلیږي
ځکه کب د زړه په وینو کښې تلیږي
کبر جن اشنا مې نه کوي پښتنه
ولې شور فریاد کوي په زړه دردمنه
دیار مینې راته شرم حیا لیوله
دا لیو په سر ئې اوچه کړیا لیوره
نه پوهیږم زړه ئې سا ولې نه فولاد
ږ او خانوي چې زه کوم ورته فریاد

Babar Paper Product

## ۴- لوبه:

### ۱- پېژندنه:

لوبه هم د پښتو د اولسي شاعرۍ یو زړه او مقبول صنف دے. لوبې د پښتو ژبې عوامي صنف دے. ټنګ ټکور سره د وېلو په وجه ډېر خوندور صنف دے. عام طور لوبې د ښځو په آوازونو وئیلے شي. لوبې په غبرګو آوازونو زیات خوند کوي.

### ۲- د لوبې خصوصیات:

لوبه یو ساده، روان، آسان او ډراماټي انداز لري. د لوبې مزاج ډېر نازک دے که دې کښې د ساده ژبې نه یو ذره هم خنګ وکړے شي نو بیا یې کښې هغه خوند او مزه پاتې نه شي.

### ۳- د فن په لحاظ سره د لوبې رنګونه:

د فن په لحاظ سره لوبه مختلف رنګونه لري. ځکه په یو بند کښې دوه، کله درې او کله څلور مصرعې لري.

### ۴- د لوبې ساخت:

د لوبې شروع اکثر د دوو مصرعو نه کیږي چې "سر" ورته وئیلے شي. اوله مصرعه اوږده او بله لنډه وي چې کله کله هم قافیه وي او

Babar Paper Product

کله جدا جدا قافیې لري ـ وروستی پینځم مصرعه
بند وئیل شي، په بند کښې اولنۍ درې مصرعې هم قافیه
وي، څلورمه مصرعه د سر د وروستۍ مصرعې په وزن وي
او پینځمه مصرعه د سر د وړومبۍ مصرعې تکرار وي.




۵- دلوبې نمونې:

(الف):

ستا د خانۍ په کلي راغې څه سیلاب ملکه
شي په خراب ملکه
ستا د خانۍ کلې برباد وینمه
د غم میلاو لور آباد وینمه
غټ خیشتي واړه په فریاد وینمه
ستا کله خیال وګرځي په راستي انقلاب ملکه
شي په خراب ملکه

(ب):

ما درته څکلنې په راستي د مینې جام ایښې وو
جانانه تا د ټګۍ دام ایښې وو
تا خو په کمې د وفا ردفې
دا څه دي وکړل بې انصافي
اے لباسي وګره خل فې
ما مظهر درته هم وختي ادس په نام ایښې وو
جانانه تا د ټګۍ دام ایښې وو



Scanned with CamScanner

## ۵- نیمکۍ:

### ۱- پېژندنه:

نیمکۍ د پښتو اولسي ادب ډېر زوړ ډول صنف دی. نیمکۍ ته د ټپې ترقي یافته شکل وائي او د ټپې په شان لومړۍ مصرعه یې ټیکلې وي ځکه ورته نیمکۍ وائي، د دې ټیکلې مصرعه په اوله نیمکۍ کښې بیا بیا تیرېږي. د نیمکۍ سر یو کس وائي او ټپه ورپسې بل کس وائي او د دې سره دې ډولۍ او رنګ نور هم زیات شي. ښځې اکثر په ودونو کښې یا په کودر کښې نیمکۍ وائي.

### ۲- د نیمکۍ خصوصیات:

نیمکۍ د ویلو نه آسان، روان او ساده رنګ لري. نیمکۍ کښې وحدت تاثر وي. د نیمکۍ سر تکرارولی شي ځکه ورته مصر پېژره هم ویلی شي. نیمکۍ د ویلو دپاره کم از کم دوه کسان ضروري وي، یو کس یې سر وائي او بل ورسره ټپه وائي. نیمکۍ سره خلق لاسونه پړکوي او اتڼ ورسره اچوي.

### ۳- د نیمکۍ موضوعات:

د نیمکۍ موضوعات ساده، روماني او تاریخي ګلیوال رنګ لري. عام طور په دې کښې یوه قیصه یو واقعه بیانېږي خو ولې کله کله پکښې د زړه خبرې هم کیږي. یعنې اکثر د عشق و محبت موضوع پکښې چیړلے شي او کله کله د دوو سندر غاړو تر مینځه د سوال و جواب کار هم ورکوي.



Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

## ۴- د نیمکۍ ساخت:

د نیمکۍ اوله مصرعه اوږده او دویمه لنډه وي. او دویمه مصرعه یې بار بار بیا تیرېږي. مطلع یې اکثر هم قافیه نه وي، دې کښې بندونه نه وي بلکښې د بندونو په ځای یکښې مصرعې ګڼل کېږي شي.




## ۵- د نیمکۍ نمونې:

(الف)

زه چې په چغو چغو ژاړم
ولې خاڼه ولې

زما دمینې په کور اوور ولګېدنه
ولې خاڼه ولې

زه چې پیدا شوم په ژړا شوم
ولې خاڼه ولې

په دنیا خو نصیب په کوم ځای ګټومه
ولې خاڼه ولې

د غمونو سترګو مینه من راغله
ولې خاڼه ولې

په غمونو غمونو راته ګوري ماسپښین پته
ولې خاڼه ولې

(ب): زما زړګی کوي دردونه
خپه خوري ولې
د اشنا غم را پانې زبات دي میمه په شامه
خپه خوري ولې -----

Babar Paper Product

## ۶- بګټۍ:

### ۱- پېژندنه:

بګټۍ هم د پښتو اولسي شاعرۍ یو زوړ او متروک صنف دے. د ختمیدو وجه ئې پروفیسر داور خان داؤد دا منلې ده چې بګټۍ چونکه د چاربېتې او لوبې په مېنځو مانه کښې یو صنف دے لږ دا اوس په لوبه یا چاربېته کښې بدله شوې ده. یو وخت کښې ئې لیکونکي هم ډیر وو او ویونکي هم.

### ۲- د بګټۍ خصوصیات:

بګټۍ د لنډ بحر د چاربېتې په شان ده. خو د ویلو انداز ئې د چاربېتو نه جدا دے. د دې انداز ډیر جذباتي او مستانه دے. جوش جذبه پکښې په شدت سره شامله وي ځکه چې اوریدونکي کښې مستي پیدا کوي. له دې وجې نه دې سره ګډا هم کیدې شي.

### ۳- د بګټۍ موضوعات:

بګټۍ اکثر د حسن وعشق معاملات و واقعات، روماني واقعات، محبوبې تذکرې او د هجر وصل واقعات په موضوع ویلې شي. کله نه کله د ټوکو نه ډکه شاعري هم پکښې کیږي. اکثر خلق وائي "څه اګټۍ بګټۍ وي".

### ۴- د بګټۍ ساخت:

بګټۍ د مطلع دوه مصرعې یوه اوږده

Babar Paper Product

یوه لنډه او هم قافیه وي، کله کله دواړې برابرې او اوږدې او هم قافیه راشي، د سر نه پس دګټتي هم پنځه څلور څلور مصرعې لري. درې مصرعې په وزن وي او څلورمه د اول مصرعې په وزن وي.




## ۵- دګټتي نمونه:

د مازیګر او بوله مسته په تنرو راځي
شور ئې د ټنګو راځي

د مازیګر او بوله اوړه
سنه سراحي غنل ئې غاړه
مینه ارمن د سر غواړه
د سپیلو وریسي پړله دسکورو راځي
شور ئې د ټنګو راځي

## 7- سندره:

### ۱- پېژندنه:

سندره د لوبې لوی شکل دی. د وخت
تېرېدو سره سره ئې د سندرې شکل خپل کړو. نن
سبا چې مونږ په رېډیو، ټي وي او فلمونو کښې څه
اورو دا د لوبې جدید او لوی شکل دی.

### ۲- د سندرې په حقله د محققینو رائې:

ځینې محققین
وائي چې کله ټپو لې ټپې، چاربیتې، نیمکۍ وغیره چې نر
شئي ئې په وروستو زمانو کښې وائې دې نه د اولسي شاعرۍ
په اصطلاح کښې سندرې وائي. بله رائې داده چې سندره
ځان له یو صنف دی او ټپې نه پس پیدا شوې دی.

### ۳- د سندرې خصوصیات:

کیسې نو کم کله تیز چې
د موسیقۍ سره اوریدلې شي نو سندره وي. خو د تکنیک په لحاظ
د سندرې بندونه کم از کم د درېو مصرعو او زیات نه زیات
د لسو مصرعو پکار دي. هر یو بند ځان له واضحه مطلب
لري. موسیقي او ترنم ئې خاص خوبي ده.

### ۴- د سندرې موضوعات:

سندره کښې د احساساتو عکاسي
په ساده ژبه کښې کېږي. سندره هر مضمون پیا لوي.

M T W T F S DATE:

## ۵- د سندرې قسمونه:

د سندرو مختلف شکلونه یا قسمونه وي لکه ملي سندرې، تاریخي سندرې، غر ئیزې سندرې او برغیزې سندرې. ځینې سندرو کښې ټپې استعمال شوې وي داسې سندرو ته مصرعه ایزې سندرې وائي.

## ۶- د سندرې ساخت:

د ځینو سندرو وړومبۍ مصرعه اوږده او دویمه لنډه وي بعضې سندرې د دې الټه جوړښت لرې یعنې وړومبۍ مصرعه ئې لنډه او دویمه اوږده وي. څه سندرې داسې هم وي چې مصرعې ئې سره یو برابر وي خو دغه شعرونه یعنې سټائیټې پکښې په لوړو بحرونو کښې وي او ځان له قافیې او ردیفونه لرې.




## ۷- تحریري ادب کښې وړومبۍ سندره:

تحریري ادب کښې وړومبۍ سندره د بیټ نیکه مشهور مناجات دي. سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء کښې لیکلي چې شیخ بیټني په ډېره ترږه دا سندرې لولوې:



Scanned with CamScanner

M T W T F S　　DATE:

لويه خدايه لويه څراية
ستا په مينه په عمر ځايه
غروا ډېر دي درناوی کښېږي
ټول ژوي په زاري کښېږي

٨- د سندري نمونې :

(الف) : زما صنم ګېرې سینګار د ښاپېرو دے
ژوندگي مې بې قرار دے اوس غواړم ديدلونه

زما صنم ګېرې سینګار د ښاپېرو دے
د حسن غبر په ټول جهان لګېږي د ښاپېرو دے
سورکې پېزوان ئې او پېزان سنه په نخرو دے
بل ئې په غاړه کښېږي د سرو يا قولو ګڼار دے
ژوندګې مې بې قرار دے اوس غواړم ديدلونه

(ب) :
ژواي ګر مې ته نصيب راوړي يمه
جانانه! د اس راګه چې د واړه سره ګونه

(ج) : سبا سپل په دامان دے لوره اداليه
او چنار ولوله دي وړمه سبا سبل په دامان دے لوره اداليه!

(د) : اداړشه پېښور ته قيصه لوړ مالا راوړه
تازه تازه ګلونه دري قلور ماله راوړه

Babar Paper Product

help line UAN-051-111-662-277) and NOA-LMS

Scanned with CamScanner

M T W T F S　　DATE: ____________

س - پښتو ژبه څومره زړه ده؟ د پښتو ژبې سرچینه څه ده -

ج : د پیژندنه - پښتو ژبه څومره زړه ده :

پښتو ژبه دومره زړه ده

څومره چې پښتانه زاړه دي ځکه چې را د یوې قدیمې ژبې د لوم سره د دعوی ثقافتي اقدار و د مجموعې لوم دی په کوم چې پښتون قام پیژندل شي دا خبره په بې ځایه نه وي چې پښتون څومره زوړ دی دومره پښتو هم زړه ده -

۲ - د پښتو ژبې باره کښې دلیلونه :

د پښتو ژبې تاریخ

په لږ کښې د یو څو خبرو بیا لول ضروري دي چې دا ثابته شي چې پښتو زرګونه کاله زړه ژبه ده ،

۱ - دلیل نمبر 1 - قاضي عبدالحلیم پښتو اکیډمۍ رساله (پښتو) مطابق :

قاضي عبدالحلیم اثر صیب د پښتو اکیډمۍ رساله (پښتو) کښې د لفظ (ار) په حقله خپل مضمون کښې دا ثابته کړې ده چې پښتو اوه زره کاله زړه ژبه ده -

۲ - دلیل نمبر ۲ - د کتاب اوستا مطابق :

ده لیکلو الو مطابق

په "اوستا" کښې د بخدر په حواله د پښتون ذکر راغلی -

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

دا کتاب په ۱۰۰۰ ق م کښې یعني د اوس نه درې زره کاله مخکښې لیکلی شوې دے۔

**۳۔ دلیل نمبر 3۔ د هندوانو رګ وید کتاب په مطابق:**

د هندوانو په "رګ وید" کتاب کښې د لوړې "پکت" په حواله د پښتو ذکر راغلې دے۔ دا کتاب په ۱۴۰۰ ق م کښې لیکلې شوې دې یعنې د اوس نه درې زره څلور سوه کاله مخکښې۔

**۴۔ دلیل نمبر ۴۔ یوناني مؤرخ هیرو ډوټس مطابق:**

یوناني مؤرخ هیرو ډوټس کوم چې پنځه سوه کاله ق م تېر شوی دی هغه په خپل کتاب کښې د پښتنو د وطن "پکتیکا" ذکر هم کړے دے چې پښتو ته یې تقریباً دوه نیم زره کاله زړه تاریخ ثابتېږي۔

**۵۔ دلیل نمبر ۵۔ ښاغلي عبدالحي حبیبي مقاله (پښتو خوا دلس سوه کاله پخوا) مطابق:**

په دې مقاله کښې حبیبي صیب ډېرې تحقیقي خبرې کړې دي۔ د دې مقالې څو اهمې برخې دا دي۔

**اول:** لويکان شاهي کورنۍ وه چې په بلتستان او غزني کښې د کابل شاهانو سره ئې خپلوي وه د دې لوړم د پښتو (لوی) نه جوړ دے او ثابته چې پښتو وه۔ او دوي په 160 کالو شا کښې تېر شوي دي۔

**دوهم۔ خانان لويک:** د پښتو یو قدیم تنظیم و یو لکي لويک

شاعر خانان لویک وو په 163ھ کې فواوشا کښې ژوندے وو د دے ھم نه د امیر کروړ د پښتو قدیم شاعر او دغه ھم عصر وو۔

**دریم - د سوری خاندان:**

ارشد صیب وائي چې د سوات په علاقه "بلګرا" کښې د غارو په مخصوصو لیکلي شوي یو خط موندلي شوې دے لوم چې ۷۰۰ ق م کښې د سوری خاندان لیکلي وو۔ دې نه ھم ظاھر بیږي چې پښتو ژبه تقریبا 2500 کاله زړه ژبه ده۔

**۶- دلیل نمبر 6 - عبدالحلیم اثر صیب کتاب (پښتو ادب) په مطابق:**

اثر صیب په خپل کتاب کښې د محمد یونس خان د تالیف (پښتو تاریخ) په حواله وائي چې د جاپان د شهنشاه میکادو په کتب خانه کښې د بده مت یو کتاب دے رسم الخط ئې پالي یعني خروشتي دے او ژبه ئې پښتو ده غالبا چې د بلخ په فواوشا کښې لیکلي شوي دي. پالي او خروشتي رسم الخط په وجه پښتو 2500 کاله پخوانۍ ژبه ده۔

**۷- دلیل نمبر 7 - نبا علي حبيبي (پخوانۍ پښتو دوه نیم زره کاله مخکښې) مقاله په مطابق:**

حبيبي صیب په دې مقاله کښې لیکلي چې د ایران د ~~[illegible]~~ اریوش بادشاه په زمانه کښې د غره د پاسه په ټیکو باندې په

میخي رسم الخط کښې لیکل شوي دي چې په پښتو رسم الخط کښې واسي دي:

نه امري کووم ، نه دروژن ووم ، نه زور کمزوري ووم .

د میخي رسم الخط نه دا ثابتیږي چې پښتو دوه نیم زره کاله پخوانۍ ژبه ده ،

## ۸- دلیل نمبر 8 - د امیر کروړ د پټې خزانې مطابق:

د پټې خزانې نه دا ثابتیږي چې دوهمه صدۍ هجري کښې لیکلې شوې ده . د امیر کروړ لیکلې د ۱۳۹ هـ نظم دې دعوې ثبوت دے . امیر کروړ وائي:

زه یم زمرے پدې نړۍ له ما اتل نشته
په هند و سند و پر تخار و په کابل نشته
بل په زابل نشته له ما اتل نشته

امیر کروړ خپله بهادري بیان کړې ده او په هند سنده او کابل کښې ئې خپل ځان غوندې بهادر نه لیدو .

## ۳- د بحث خلاصه :

دې ټولو خبرو نه دا معلومیږي .
چې په ژبني لحاظ پښتو د سنسکرت او اوستا هومره زړه ژبه ده چې قدامت ئې درې نیم زره (3500) کاله قواوشا ته رسي په میخي رسم الخط کښې دوه نیم زره (2500) کاله او په موجوده خط کښې تقریبا 1360 کاله ته رسي خو مونږ د ماهرینو اندازې مطابق د پښتو ژبې قدامت پینځه زره کاله یا دومره شو . لیدے شي چې د دغو تحقیقاتو په رڼا کښې نوره هم وړاندې لاړه شي .

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

## ۴- د پښتو ژبې سرچینه:

کله چې وسطي ایشیا نه آریائي قوم بلخ کښې آباد شو نو آریائي ژبه دلته شروع شوه. بلخ نه پوره ډله ایران ته لاړه هغې فارسي او پهلوي ژبه شروع کړه او کومه ډله چې هندوستان ته لاړه هغې سنسکرت ژبه جوړه کړه. کوم خلق چې په خپل ځائې پاتې شو د پښتانه وو او دلته پښتو ژبه جوړه شوه. نو اصل کښې د پښتو ژبې سرچینه آریائي ژبه ده.




## ۱- د آریائي ژبو په حقله تحقیق:

① میرم راګوزن لیکي چې "آر" معنه ده "الوي" په اټالي کښې ورته "ازار"، انګریزي کښې "ایریل" او لاطیني کښې "ارور" چې معني ئې ده "الوې شوې لښتې". دا ټول لفظي د دغه "ار" نه وتلي دي.

② مسټر الفنسټن لیکي چې پښتو ژبه د ژند او پهلوي سره ډېر مناسبت لري نو معلومېږي داسې چې دا آریه ژبه ده، دوی لیکي چې ما په 218 الفاظو کښې یو هم لفظ ونه موندو چې سامي ژبې سره مناسبت لري.

Scanned with CamScanner

3- میجر راورټي پښتو ګرامر په دیباچه کښې لیکلي چې پښتو ژبه، ژندا او پهلوي ژبې په یوه سر چینه اوبه شوي دي.

4- د فرانس مستشرق ډاکټر ولیم عبري په خیال پښتو یو طرف ته د سنسکرت او بل طرف ته اوستا سره نږدیکت لري.

5- عبري والټر بیلیو پښتو ته د سنسکرت خور ویلې ده.

6- جي اے ګریرسن په لنګوسټک سروې آف انډیا په لسم ټوک کښې د پښتو په بحث دا خبره ثابته کړې ده چې دا آریائي ژبه ده.

7- احمد علي کوهزاد په خپل کتاب (تاریخ افغانستان جلد اول) کښې لیکلي چې پښتو ژبه د آریائي ژبې نه راوتي ده. دې ټولو تاریخي او تحقیقي حوالو نه دا خبره ښکاره کېږي چې پښتو د آریائي نسل سره څه نه څه تعلق ضرور لري.

## ۲- پښتو، سنسکرت او اوستا ژبو کښې عمومي مشابهت:

په دې لسم کښې ښاغلي عبدالحی حبیبي په خپل کتاب د پښتو ادبیاتو تاریخ کښې د دې دواړو ژبو د مشترکو ټکو یو فهرست ورکړے دے چې د دې دواړو ژبو مشابهت ترې څرګندیږي. یې له بعضې فهرست نه یو سو ټکي دا دي.

| پښتو | سنسکرت | اوستا |
|---|---|---|
| اوبه | آب | آپه |
| څرمن | چرمن | چرمن |

| پښتو | سنسکرت | اوستا |
|---|---|---|
| ستوری | ستاره | ستر لیسه |
| ونه | ون | ون |
| جینۍ | جینی | جینی |
| ځنګل | جنګل | جنګل |

ب- اعداد و شمار په مطابقت سره:

| پښتو | سنسکرت | اوستا |
|---|---|---|
| یو | ایکم | ایوا |
| دوه | دوا | دوه |
| درې | تري | تثري |

۵- د کلام خلاصه:

د الفاظو د الېز هم په مشابهت دا ثابتوي چې دا درې واړه ژبې د یو ځای نه راوتي دي د یوې مور لونه دي او د دې لپاره بحث په ډېرا کتبو کې شوی په دې نتیجه اورسېدو چې د پښتو ژبې سرچینه اریایي ژبه ده -